کوو نو دا انسان ووژنئ)، او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- بل ځای کې فرمايي:(کله چې د دوه خليفه ګانو لپاره بيعت واخيستل شو، نو وروستنی يې ووژنئ) [رواه مسلم عن أبي سعيد الخدري]، بل ځای کې فرمايي:(د هغه مسلمان وينه حلاله نده چې دا ګواهي کوي چې نشته لائق د بندګی مګر يو الله دی او زه د الله رسول يم، مګر په يوه د درې خبرو: چې واده کړی زنا کار وي، او نفس په نفس، او هغه سړی چې خپل دين پريږدي او د مسلمانانو له ټولي جدا شي) [رواه البخاري ومسلم عن ابن مسعود].

په دې زمانه کې په اسلامي امت او موحدينو د الله تعالی دا نعمت وشو چې د مسلمانانو لپاره ټولی راتازه شو- چې د دوی پکې کوم قوت او کوښښ نه وو شامل- وروسته له هغې چې څو پيړۍ دغه د خلافت او جماعت نعمت ورک و، او په هر مسلمان فرض وه چې د خلافت او جماعت د بيا راوستو لپاره کوښښ وکړي، بلکې پدې خبره ورسره حساب کيده، اوس چې الله تعالی په خپل ځانګړي رحمت او نعمت راوسته نو په هر موحد مسلمان فرض دي چې په ژبه او عمل د خپل رب شکر وکړی؛ په خپلو خاصو او عامو مجالسو کې د دې نعمت په اړه خپله مثبته رايه څرګنده کړي،{وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ} [سورة الضحى: ١١]، ژباړه: او هر چې ستا د رب نعمت دی نو ته يې په اړه خبرې کوه، بايد موحد مسلمان د دغه نعمت د ساتلو لپاره خپل کوښښ وکړي لدې دفاع وکړي، پرې وجنګيږي او د دې په ارکانو پابندي وکړي- چې هغه هجرت، خبره اوريدل، منل جماعت او جهاد دی- او هم يې د ارکان په غوښتنو پابندي وي-لکه ځای ورکول، مرسته کول، بيعت کول، ځان تيارول او رباط کول دي-ترڅو الله تعالی پر دوی نور زيات فضل هم وکړي، الله تعالی فرمايي: {وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ} [سورة إبراهيم: ٧]، ژباړه کله چې ستاسو ښکاره اعلان وکړ؛ که تاسو شکر وکړ نو زه به تاسو ته نعمتونه زيات کړم، او که ناشکري مو وکړه نو زما عذاب ډير سخت دی.

يا الله تعالی زمونږ په لاسو قسطنطينيه او روما فتح کړې، او مونږ د خپلو نيکانو شکر ګذار او صابرو بندګانو څخه وګرځوې، آمين.

سمبولونه که بُتان؟

لمړی ټوک

په هره زمانه کې د جاهلیت د خلکو دا ځانګړی صفت وي، چې د هرې قبیلې او ډلې ځانته بت وي، ترڅو نورو ډلو سره یې توپیر ښکاره شي، دغه ډله د خپل بت عزت کوي او د نورو بتانو څخه بغیر خپل بت ته د ځان نسبت کوي، بلکه د دښمن د بتانو مقابل کې په خپل بت فخر کوي او کله خو حالت دیته ورسي چې دغې ډلې ته د یو چا نسبت د الله تعالی نه بغیر د دغه بت په عبادت پورې وتړل شي، نو بیا دغه ډله او بت د خلکو په مینځ ډیر قوت او عزت پیدا کړي، له دې وروسته یا دغه بت دومره قوي وي، چې دغه ډله د ده له دغه قوت او عزت څخه استفاده وکړي او یا دغه ډله دومره قوي او منلې شي چې د خپل بت تعظیم او سپیڅلتیا په خلکو وتپي، چې زیاتره وخت همداسې کیږي، څکه چې دغه بت/»سمبول« سیاسي موخې لري، پداسې شکل چې دغه بت ته غاړه ایښودل دغه ډلې ته غاړه ایښودل وګرځول شي، کومه چې د دغه بت سره د ارتباط ګمان لري او د هغه په ښیګړو قدم پورته کوي، او د غه بت ځان سره نیسي.

همدا وجه ده چې کله د یو ملت بادشاهي ختمه شي، نو د هغې سره یې بتان او باطل معبودان هم خواره واره شي، بیا نو د غه جاهلان د هغه امت د بتانو عبادت او تعظیم پیل کړي کومه چې پرې غالبه او زور واکه شي.

پدې لړ کې د کعبې شریفې سره د ابرهه حبشي کیسه یوه غوره بیلګه ده، کله چې هغه ځانته په یمن کې یوه عبادت خانه جوړه کړه او خلک یې د هغې بندګۍ او تعظیم ته را وبلل، لیکن کله چې یې د دغې عبادت خانې څخه د خلکو مخونه کعبې او د هغې د بتانو په لور ولیدل، نو خپل لښکر یې تیار کړ ترڅو هغه بتان ختم کړي چې د هغه د بت سره یې مقابله ده ترڅو د ده بت ته میدان خالي شي د کوم چې د الله تعالی نه بغیر عبادت کیږي.

الله رب العالمین رسول الله صلی الله علیه وسلم د حق د اظهار په خاطر راولیږه ترڅو خلک د دغو بتانو د بندګۍ څخه منع کړي، او د یو الله تعالی عبادت ته یې راوبلي چې هیڅ شریک ورسره نشته، د شرک پریښودلو ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنه کې ټول هغه څه داخل دي چې د الله تعالی نه بغیر یې بندګي کیږي، که هغه پیغمبر وي، که ملائک، نیک بنده وي، که ظالم بادشاه، درواغژن کاهن وي، که اساسي قانون، یا زیارت، ونه، ګټه، یا شیطان او یا داسې نور.

په مخکنو امتونو کې د الله تعالی طریقه دا وه چې کله به زمانه اوږده شوه-او پیغمبر به رانغی-نو د خلکو عقیده به هم زړه شو او هغوی به د شرک لورې ته ستانه شول، طواغیت به یې ودرول، د هغې عبادت به یې پیل کړ، بلکې نور خلک به یې هم هغې ته رابلل.

پدې لړ کې د شرک ښکاره بیلګه د هغه چا د بندګۍ څخه پیل کیږي چې خلک یې غوره او نیکان بولي، لمړی یې انځورونه جوړ شي ترڅو یې په لیدلو د هغوی عبادت رایاد شي، او د لیدونکو سره یې د عبادت شوق پیدا شي، بیا له دغه انځورونو څخه بتان جوړ شي چې دالله تعالی نه بغیر یې بندګي کیږي، د هغوی نه سپارښونه غوښتل کیږي، حلالکې ورته کیږي، نذر او داسې نور... مشرکان داسې ګمان کوي چې مونږ خو پدې کار الله تعالی ته ځان نږدې کوو، تردې چې خپل دغه ناوړه کار ته شرک هم نه وایي، لکه د هغوی داخبره:(مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى)ژباړه: مونږ د دوی عبادت نه کوو، -مونږ خو دا کار ځکه کوو چه- دوی مونږ الله تعالی ته په درجه کې نږدې کړي.

یا د مشرکینو دا خبره:(هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ) ژباړه: دغه خلک خو د الله تعالی سره زمونږ سپارښیان دي.

مشرکان د خپلو دغو معبودانو څخه سخته دفاع کوي او د هر هغه چا خبره ردوي چې لدغه کاره یې منع کوي، داسې وایي:(وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا) ژباړه: او دوی وایي: تاسو خپل معبودان مه پریږدئ، تاسو -چیرته- ود، سواع، یغوث، یعوق، او نسر پرې نږدئ.

بیا په دې شرک کې هغه څوک د دغو مشرکانو تابعداري کوي، چې د خپلو پلارانو په ړوند تقلید یې په کفر کې داسې زیاتی راغلی وي او د الله تعالی د عبادت څخه یې منع کړي وي، لکه چې الله تعالی د دوی په اړه فرمایلي:(وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى

مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ) ژباړه: کله چې دوی ته وویل شي: هغه څه ته راشئ چې الله تعالی رالیږلي او رسول ته راشئ، دوی وايي: زمونږ لپاره هغه څه بس دي چې مونږ پرې خپل پلاران موندلي.-بیا الله تعالی د دوی دغه دعوا باطله کړې فرمايي- آیا که د دوی پلرونه په هیڅ نه پوهیدل او نه په سمه لار وو.

أبو بكر بن العربي المالكي رحمه الله د آيت په تفسیر کې وايي:(د دوی د اخبره چې مونږ پرې خپل پلرونه موندلي او مونږ به د هغوی تابعداري کوو، او هغه کارونه به کوو چې هغوی مو پرې لیدلي وو) دا خبره د هغوی سره ثابته نده چې ګواکې پلرونه يې په سمه لاره وو او یا په سمه لاره کې بې ګناه وو، دې مشرکانو د اخبره هیره کړې چې امکان لري چې د دوی پلرونه په باطله وو [احکام القرآن].

نن ورځ هم مونږ ګورو چې ډیر تنظیمونه، ګروپونه او ډلې داسې دي چې ښکاره د دین د قیام او د شریعت د پلي کولو چیغې وهي، مګر دوی د مخکنو مشرکانو په پل، پښه اېښې، ځکه دوی هم د خپل ګمان له مخې د هغو نیکانو خلکو تعظیم کوي، چې په هغوی کې یو شمیر ښه صفتونه وي، لکه پوهه، جهاد، د طواغیتو پرخلاف صبر او تحمل، یا د هغوی د خطبو او فصاحت له مخې، یا یواځې د خلکو په مینځ کې د هغه د شهرت له مخې.

بیا د دغو خلکو په عزت او تعظیم کې دومره زیاتی وکړی شي چې د شرعي پولو څخه هم واوړي، د هغوی انځورونه پورته کوي، د هغوی په باره کې د تعظیم ناروا لقبونه استعمالوي، د هغوی خبرې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو او احکامو مخکې کوي، اګر که دا اقرار هم کوي چې د دغه مشر خبره د الله او رسول د خبرو نه اخیستل شوې، خطرناکه خبره پکې دا وي چې د دغه مشرانو خبرې راټولې کړل شي او دهغې څخه د (منهج) په نوم کار واخیستل شي، او د دغو تنظیمونو راتلونکو نسلونو ته د هغې ښوونه او لوستنه کیږي،دعوا دا وي چې همدغه صراط مستقیم او هغه سیده لاره ده چې د الله تعالی رضا پکې حاصلیږي، اوس دا خبره هم مشهوره ده چې دغو اشخاصو ته د یوې اوبلې ډلې «سمبولونه» ویل کیږي او چا چې پدغه سمبولونو رد وکړ، نو دومره ناخوښه ګڼل کیږي، لکه چې د الله تعالی په شریعت چا رد کړی وي، تاته به داسې ښکاره شي چې دغه «سمبولونه» -مړه وي که ژوندي- د دې ګمراهانو په زړونو کې د قرآن او حدیث ځای نیولی، که چا یې کمی بیان کړ نو ګویا هغه د اسلام کړی له غاړې لرې کړه.

اوس داسې حال رامینځ ته شوی چې د هرې ډلې یو یا ډیر «سمبولونه» دي، لکه په جاهلیت کې چې به د قبائلو یو یا ډیر بتان ول، د هرې ډلې دا کوښښ دی، چې د خپل بت تعظیم د خلکو په زړونو کې کښینوي او دا ورته ښکاره کړي چې هله به زمونږ ملګري ډیر شي چې زمونږ د دغه

«سمبول» تعظیم د خلکو په مینځ کې ډېر شي، همدا وجه ده چې د دغو سمبولونو لپاره یو شمېر لقبونو ایښودل کېږي، او د دغه تنظیم مشران چې کومې پرېکړې کوي د خپلو سمبولونو د خبرو څخه پرې دلیل نیسي، بلکې د یو کار د جواز او ضرورت په اړه یوازې دومره هم بس وي چې د دغې ډلې شیخ او «سمبول» پرې رایه ورکړې وي، یایې پرې اقرار او امر کړی وي، بیا نو دېته نه کتل کېږي چې شریعت څه وایي، بلکې خبره دیته رسیدلې چې خلک د دغو سمبولونو په اړه جګړې کوي، هره ډله دعوا لري چې مونږ د دغه «سمبول» اصل وارثان یو، په سمه توګه یې تابعدار یو، د هغه په ښوونه سم روان یو او د هغه د پیغام امانتګر یو، حال دیته رسیدلی چې خلکو دروازې جوړې کړې، لکه چې د روافضو او باطنیه فرقو حال دی-الله دې دوی وشرموي- هغوی هم دا خیال لري چې علماء او شیوخ یې د آل بیت امامانو ته دروازې دي، چې خلک ورسره په دغه لاره تماس نیسي، دلته هم حال دا دی چې د یوې ډلې بعضې افراد دا دعوا کوي چې دفلاني «سمبول» وصیت زما په حق کې دی او همدا زه د دغې ډلې او تنظیم... خلاصی ورکونکی او مسیحا یم.

د ګمراهانو ښکاره صفت خپل تنظیم، ډله... د «سمبول» سره نښلول او په هغې ځان مضبوطول وي، ځکه صحیح مسلمان پدې پوهېږي چې قرآن او سنت هغه یوازینی قوی لوری دی چې د خپلې دعوې د اثبات لپاره ورته تکیه کولی شو، مګر بدعتیان چې د شرعي دلیل له موندلو عاجز شي نو بیا غلط دلائل لټوي ترڅو خپله دعوا او منهج صحیح ثابت کړي.

لکه چې نن ورځ ګمراه تنظیمونه او ډلې هم دغه کار کوي، چې د خپل منهج د صحیح ثابتولو لپاره یو «سمبول» ته تکیه کوي، خو که چېرته د دغو سمبولونو حال وکتل شي نو معلومه به شي چې بعضې یې مبتدعین ګمراهان وي او بعضې نور یې په ښکار ارتداد کې ککړ وي.

کله نا کله دغه تنظیمونه د خپل منهج د صحت لپاره د د غې ډلو د مخکنو افرادو په قربانۍ دلیل نیسي، یا چې څومره یې په زندانونو کې دي، یا یې شمېره زیاته ده او افکار یې په خلکو کې خپاره دي، چې دغه ټولې خبرې د حق په مقابل کې هیڅ فائده نه ورکوي.

ځکه موحد مسلمان ټول «سمبولونه» د اسلام په تله تلي او هیڅکله داسې نه کوي چې خپل دین د کوم «سمبول» په تله وتلي، د هغه په نزد دیو «سمبول» قدر دومره وي، څومره چې هغه د حق تابع وي او کله هم حق د دغه «سمبول» په خبرو او کارونو کې نه لټوي، د موحد مسلمان کوښښ دا وي چې د الله تعالی بنده شي، نه د کوم تنظیم او د هغې د سمبولونو، موحد مسلمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابع وي، نه د کومې ډلې او حرکت د منهج.

نن ورځ «سمبولونه» ډېر شوي، حتی چې د جاهلیت د مشرکانو د بتانو څخه هم زیات او هر څوک د مشرکانو په څېر خپل «سمبول» ته بلنه کوي اوس تنظیمونه هم «سمبولونه» ښکاري، مشران یې بیل «سمبولونه» او منهجونه یې بیل «سمبولونه» ، مسلمان حیران شي چې ربه اوس د کوم «سمبول» تابع شم؟

د دې پوښتنې په ځواب کې به ټول عقلمند په یوه خوله ووایي: د هغه چا تابع شه چې د قرآن او سنت سره موافق وي، نو نتیجه دا شوه چې باید مونږ رأسًا د قرآن او سنت تابع شو او دغه «سمبولونه» پرېږدو.

د مظالمو د څارنې د مرکزي دفتر د امير سره مرکه

د شکايتونو دغه مرکزي دفتر د څه لپاره جوړ کړای شوی دی؟

الحمد لله والصلاة على رسوله الكريم ومن سار على هديه إلى يوم الدين، وبعد: الله – عزوجل - په عدل امر کړی او هغه يې د خپل ځان صفت ګرځولی، الله سبحانه وتعالی فرمايي: {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} [النحل: ٩٠]. ژباړه: په يقيني توګه الله تعالی په عدل، ښيګڼې او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي او له بدۍ او بې حيايي، او زور او ظلم څخه منع کوي، تاسو ته وعظ کوي ترڅو خبره رایاده کړئ.

بل ځای فرمايي: {وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ} [الأنعام: ١١٥]. ژباړه: او ستا د رب کلمه د عدل او ريښتينولۍ له نکاه څخه پوره ده، د هغه د کلماتو لپاره هيڅ بدلون نشته او هغه اوريدونکی او پوه دی.

بل ځای الله تعالی د خپل ځان څخه ظلم نفي کوي:{إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا وَلَكِنَّ النَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ} [يونس: ٤٤]، ژباړه: يقينا الله تعالی د خلکو سره هيڅ ډول ظلم نه کوي، ليکن خلک د خپل ځان سره ظلم کوي.

الله تعالی د ظلم د ټولو ډولونو څخه منع کړې، چې په هغې کې يو شرک هم دی، کوم چې د ظلم تر ټولو لوی ډول دی.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:{وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ} [لقمان: ١٣]، ژباړه: کله چې لقمان خپل ځوی ته د وعظ په ترڅ کې وويل: ای زما ځويه! ته د الله تعالی سره شرک مه کوه، په يقيني توګه شرک ډير لوی ظلم دی.

د ظلم يو ډول دا هم دی چې انسان د خپل ځان سره د الله تعالی د يو امر د مخالفت په وجه ظلم وکړي يا د هغه د کومې پولې څخه تېر شي، الله تعالی فرمايي:{وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ} [الطلاق: ١]. ژباړه: څوک چې د الله تعالی د پولو څخه تيری وکړي نو هغه د خپل ځان سره ظلم وکړ.

د ظلم يو ډول دا هم دی چې انسان د بل چا سره ظلم وکړي او د هغه په حقوقو تيری وکړي، لکه څرنګه چې الله تعالی د داود - عليه السلام - په ژبه فرمايلي دي: (قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَى نِعَاجِهِ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ) [ص: ٢٤]. ژباړه: هغه وويل: يقينا هغه- ستا څخه په مېږه غوښتو او خپلو مېږو سره په يو ځای کولو- ستا سره ظلم کړی او واقعيت دادی چې زياتره شريکان يو پر بل تيری کوي، مګر هغه کسان چې ايمان لري او نيک عمل کوي، چې دوی په کې ډېر کم دي.

نو دین به هغه وخت په سمه توګه قایم شي چې د ظلم دغه ټول ډولونه له منځه ولاړ شي، چې د دې هدف په لار کې نن اسلامي دولت د الله عزوجل په فضل کار کوي، ځکه د شرک پر خلاف جنګ او ټول خلک د الله رب العالمین حکم ته په غاړه مجبورولو سره لوی ظلم له منځه ځي، په امر بالمعروف نهي عن المنکر سره د انسانانو د خپلو ځانونو سره د ګناهونو په شکل کې شکاره ظلم له منځه ځي او د الله تعالی په شریعت نافذولو، د حدودو په قیام او د زیاتي څخه د خلکو په لاس نیولو سره د انسانانو ترمنځ د ظلم لړۍ له منځه ځي، چې په دې چوکاټ کې اسلامي دولت بېلابېل ارګانونه جوړ کړي، ترڅو خلک په خپل منځ کې د ظلم څخه منع کړي او ظلم فورا د یوه فرد یا یوې خوا څخه په نښه کړي شي، له دغه ارګانونو څخه یو هم د مظالمو د څارنې مرکزي دفتر دی.

په اسلامي دولت کې هغه کومې خواوې دي چې د ظلم د مخنیوي څارنه کوي او د خلکو ترمنځ ظلم له منځه وړي؟

په دې اړه اصول دا دي چې د مظلوم مرسته او د ظالم لاس ونیول شي- اګر که مسلمان هم وي - دا دواړه کارونه په هر مسلمان واجب دي، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(د خپل ورور سره مرسته وکړه، که ظالم وي که مظلوم، نو یو سړي وویل: ای د الله رسوله زه به ورسره مرسته کوم که چېرته مظلوم و، خو که چېرته ظالم و نو څرنګه مرسته به ورسره کوم؟ په دې اړه خبر راکړه، هغه وفرمایل: ته به دغه سړی د ظلم څخه منع کړې نو دغه د هغه سره مرسته شوه) [متفق علیه].

بیا که مونږ هغه امانت ته وګورو چې مشرانو داسلامي دولت په مجاهدینو اېښی دی نو دغه واجب نور هم ډېر قوي کوي، ترڅو مجاهدین په دې اړه د هغه ورونو سره مرسته وکړي چې د مظالمو د څارنې لپاره ټاکل شوي دي، له دې امله ضرورت دا تقاضا کوله چې باید داسې ځانګړی ارګان وجود ولري چې د مظالمو څارنې ته وزګار وي.

نو اسلامي دولت- د الله په فضل سره - د مظالمو لپاره یو شمېر داسې دفترونه جوړ کړل چې په دیوان القضاء والمظالم پورې اړه لري او د اسلامي دولت په هر ولایت کې یې هم د مظالمو د ثبت او د منځه وړلو لپاره دفترونه جوړ کړي چې د والي په دفتر پورې اړه لري، ترڅو هغوی ته د هغه چا شکایتونه ورسېږي چې د والي د لاس لاندې وي لکه امیران او مجاهدین، د دې ټولو نه علاوه د مظالمو د څارنې مرکزي دفتر یوه داسې ځانګه هم جوړه کړې چې په ځانګړې توګه په مستقل ډول د مظالمو څارنه کوي، دغه ټولې خواوې په کډه د هغو قضیو په اړه څېړنه کوي چې هلته د ظلم وېره موجوده وي، ترڅو د هغوی څارنه او تعقیب وشي او پر وخت مشخص کړای شي.

د مظالمو (شکایتونو) د څارنې او تعقیب لپاره دغه بېلابېلې خواوې ولې ټاکل شوي، رازیې څه دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (په تاسو کې هر یو شپونکی(مسؤل) دی او د هغه څخه به د خپلو اتباعو په اړه پوښتنه کېدای شي)[متفق علیه].

نو هر هغه څوک چې الله تعالی ورته د مسلمانانو له کارونو څخه کومه برخه په غاړه کې اچولې وي، په هغه واجب دي چې په خپلو اتباعو او لاس لاندې خلکو کې د ظلم مخه ونیسي او که چېرته ورته د ظلم په اړه د کومې قضیې په هکله خبر ورسیږي نو هغه شرعا مکلف دی چې د خپل رعیت څخه د ظلم د پورته کولو لپاره کوښښ وکړي.

له دې امله په اسلامي دولت کې د ظلم د مخنیوي لپاره بېلابېلې خواوې ټاکل شوي، ترڅو د اسلامي دولت د اتباعو او مجاهدینو لپاره اسانه وي چې په ولایتونو کې والیانو ته د هغوی د لاس لاندې خلکو په اړه شکایات ورسوي او په محکمو کې د پرتو قضیو خاوندان دیوان القضاء ته د قضاء د احکامو په اړه شکایت وکړي، ترڅو دغه احکام بیا له سره وڅېړل شي، همدا ډول په دار الاسلام کې د عامو مسلمانانو لپاره دا موقع برابره شي چې هغوی د والیانو په اړه یا د دیوانونو د امیرانو او عسکري امیرانو په اړه او یاهم د اداري اجراءاتو په اړه د امیر المؤمنین- حفظه الله - لخوا لوړ پورې کمیسیون (اللجنة المفوضة) ته شکایت وکړي - کوم کمیسیون چې د مظالمو د څارنې مرکزي دفتر په دغه ماموریت ګمارلی دی.

په دې شکل سره به مونږ- بإذن الله- په دې اړه خپل پوره کوښښ کړی وي چې د خلکو پرمخ دروازه خلاصه کړو ترڅو خپل شکایت ځای ته ورسېږي، همدا ډول هغه بندونه مو له منځه یوړل چې پر بنسټ به یې

دعوه له دې امله وروسته کېده چې دغه خوا په دې اړه ځانګړې اوامر او تخصص نه لري او یاهم په مدعی علیه باندې واک نه لري.

د هغه مظالمو په اړه چې د مظالمو د تعقیب او څېړنې دفتر ته ورسېږي، دفتر کوم ډول اجراءات کوي؟کله چې مونږ کومه دعوا واخلو او ځان سره یې ثبت کړو نو بیا ورته ګورو چې:که چېرته په قضیه کې د ظلم غالب احتمال وي نو تعقیب ته یې ورکوو، که نه وي نو فورا یې رد کوو.

بیا د ظلم دغې قضیې ته کتل کېږي، که چېرته د والیانو او د دیوانونو د امیرانو د لاس لاندې قضیو پورې اړه لري نو هغوی ته حواله کولی شي ترڅو په کې څېړنې وکړي او نتیجه یې د مظالمو مرکزي دفتر ته واستوي چې هلته د غور لاندې ونیول شي؛ که چېرته په کې د متعلقه محکمې یا خوا تحقیق پوره او فیصله یې مناسبت وي، تصدیق یې کېږي او که چېرته تحقیق نیمګړی وي یا په کې فیصله مناسب نه وي نو یو ځل بیا ورته لېږل کېږي چې د سره پرې غور وکړي، په دې اړه زمونږ کار دا دی چې په پرله پسې ډول د قضیې تعقیب کوو، ترڅو په کې صحیح کتنه وشي او په عاجله توګه سرته ورسي.

که چېرته قضیه په یو قضایي حکم پورې اړه لري نو هغه مونږ بیا دیوان القضاء ته حواله کوو او ترڅنګ قاضیانو ورونو ته په دې اړه خپله رایه هم لېږو، ترڅو په قضیې کې د سره کتنه وکړي، چې دلته هم زمونږ رول د موضوع تعقیب او په اړه یې د تلوار (سرعت) نه کار اخیستل وي.

لیکن که چېرته قضیه په کوم والي ورور یا د کوم دیوان په امیر او یاهم د اسلامي دولت په کوم ارکان پورې اړه لري، نو بیا دغه قضیه موږ په خپله اخلو، په چا چې دعوا شوې وي هغوی را غواړو یا په قضیه کې د هغوی نائب راغواړو او په هغه مسائلو کې چې په دوی دعوا شوې وي د دوی دفاعي ځوابونو ته غوږ نیسو، بیا په قضیه کې په دې شکل سره فیصله کوو چې: که ظلم ثابت شي نو مظلوم ته خپل حق سپارو، یا ظالم ته تعزیر او سزا ورکوو او که چېرته دعوا ثابته نه شي نو دعوا رد کوو او وضحات یې کوو.

تاسو د خپلو خبرو په ترڅ کې د بعضې قضیو په اړه وویل که چېرته په کې د ظلم احتمال وي، له دې ټکي ستاسو څه مقصد دی؟

ترڅو تاته په دې اړه خبره ښه واضحه شي زه به درته دوه مثالونه وړاندې کړم، چې ته یې په اساس په دواړو کې توپیر وکړای شې لومړی: یو امیر یو مجاهد بل ځای ته نقل کړي چې هلته یې ورته ضرروت وي ترڅو هلته حاجت پوره کړای شي یا دغه د تخصص خاوند وي یا داسې نور څه، لیکن په دې اړه د دغه مجاهد خیال وي چې ما سره ظلم شوی، ځکه چې زه د خپل کور او سیمې څخه لرې کړای شوم... دویم: یو امیر هغه مجاهد چې د هغه د لاس لاندې وي د تعزیر او سزا په شکل بلې سیمې ته ولېږي، ځکه چې ده کومه غلطي یا بې پروایي کړې وي او یا پکې د یوې خطا مخنیوی وي چې امیر ترې ځان ساتي، لیکن دغه مجاهد ګمان کوي چې په دې قضیه کې

ماسره ظلم شوی، ځکه دغه تعزیري سزا د هغې خطا سره سمه نه ده چې زما څخه شوې ده یا دغه مجاهد وایي چې اصلا زه په خطا نه یم.

نو په لومړي حالت کې د ظلم کوم احتمال نشته ځکه د امیر حق دی چې خپل مجاهدین یا یو تن د یو ځای څخه بل ځای ته د کوم ضرورت له مخې ولېږي او مجاهد به په دغه وخت کې خبره اوري او مني به یې، لیکن په دویم حالت کې د ظلم احتمال کېدای شي، چې په دغه حالت کې موږ قضیه په لاس کې اخلو او د مسئلې حقیقت ته ځان رسوو، ترڅو وګورو که ظلم په کې وي چې له منځه یوړل شي- بإذن الله.

موږ چې د دې دفتر د جوړولو څخه تر اوسه کومې قضیې څېړلې نو په هغې کې مو د نیمایي پورې قضیې داسې موندلي چې د ظلم کوم احتمال په کې نشته، بلکې هغه د شکایت او احتیاجاتو له زمرې څخه دي، لیکن هغه قضیې چې موږ په کې د ظلم علامه لیدلې نو – الحمدلله - هغه موږ په خپله اخېستي او د ظلم دغه احتمال موږ په نسبي ډول په ډېره کمه موده کې ختم کړی؛ یا مو ظلم له منځه وړی- که چېرته موجود وي - او یا مو مدعي ته د هغه د دعوا په اړه نصیحت کړی چې مدعی علیه په دې اړه بې ګناه دی.

آیا د مظالمو د دغه دفتر په غاړه نور ماموریتونه هم شته؟

هوکی! د الله په فضل موږ یو شمېر داسې کمیسونونه لرو چې د اسلامي دولت په زندانونو ګرځي او هلته د بندیانو سره مرکې کوي، یا هغه څوک چې اوس د تحقیق په مرحله کې دي، ترڅو یې په اړه کتنه وشي او که د ظلم شکایت لري چې هغه واخېستل شي او د دې ترڅنګ یو شمېر نورې لجنې (کمیسیونونه) هم لرو چې په سنګرونو او د رباط په لومړیو خطونو ګرځي ترڅو د مجاهدینو احوال تعقیب کړي او په مظالمو کې یې کتنه وکړي، په دوارو حالتونو کې که داسې قضیه په لاس راشي چې په هغې کې د ظلم علامه او احتمال کېدای شي نو هغه دفتر ته راجع کولی شي تر څو یې تعقیب او څېړنه سرته ورسېږي، د دې ترڅنګ د مختلفو قبایلو د مشرانو او مخورو سره لیدل کېږي؛ ترڅو د هغوی شکایتونه واورېدل شي او مشرانو ته د کتنې لپاره ورسول شي.

د مرکې په پای کې کوم پیغام لرئ چې کتونکو ته یې رسول غواړئ؟

موږ ټولو مسلمانانو ته عموما او په ځانګړې توګه د اسلامي دولت مجاهدینو ته وصیت کوو چې د ظلم څخه ځان وژغوري ځکه د ظلم ځر ځای ډېر ناکاره دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیان سره سم د قیامت په ورځ تیارې دي.

که په چا د خپل ورور لخوا ظلم شوی وي او غواړي چې خپل حق ترې واخلي نو د مظالمو د تعقیب په دفتر کې د هغه د ورونو دروازې همېشه د هغه په مخکې خلاصې دي، همدا راز نور دفترونه هم د هغه په مخکې خلاص دي، هغه باید موږ ته د ظلم خپله قضیه وړاندې کړي، که یې حق ثابت شو نو د ظالم څخه به ورته حق اخلو اګر که دغه ظالم موږ ته د ټولو نه زیات ګران وي او په دې اړه به موږ د چا د ملامتیا کومه پروا ونه کړو- بإذن الله.

او که څوک د خپل ځان لخوا په چا دکوم ظلم په اړه پوه شو نو د الله تعالی څخه دې ووېرېږي او ژر تر ژره دې توبه وباسي او د حق خاوند ته دې حق ورسوي او د هغوی څخه دې معافي هم وغواړي.

که څوک د ظلم د کومې قضیې په اړه معلومات لري نو د خپل مظلوم ورور سره دې د قضیې په رارسولو کې مرسته وکړي، ځکه بعضې مظلومان کمزوري وي، بعضې ناپوه وي؛ نه پوهېږي چې خپله قضیه څرنګه ورسوي او څرنګه خپل حق وغواړي، کله چې موږ ته خپله قضیه ورسوي نو په دې سره به هغه خپله قضیه مشرانو ته رسولې وي او د الله تعالی په وړاندې به یې ذمه بري وي او څوک چې په ظلم غلی پاتې شو-مونږ ته یې قضیه را ونه رسوله-، نو په دې غلي پاتې کېدو یې د ظالم سره مرسته وکړه چې سزا به یې د ظالم څخه ډېره وي.

د الله تعالی نه سوال کوو چې زموږ احوال سم کړي او زمونږ خاتمه ښه کړي، إنه ولي ذلك والقادر عليه، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، والحمد لله رب العالمين.

د ذو الحجې

لمړۍ لسیزه او پکې ثابت عبادتونه

دا یو څو ورځې دي چې پدې کې زمونږ مخې ته د عباداتو یو لوی موسم را روان دی چې هغه د ذوالحجې میاشتې هغه لس لمړنی ورځې دي، د حج ورځې، دا ورځې هغه دی کومو ته چې الله تعالی د ټول کال غوره ورځې ویلې دي، او دا ورځې الله تعالی مونږ ته ددې لپاره غوره کړې تر څو مونږ پدې ورځو کې مونږ خپل عبادات وکړو او هغه کمبوتونه را پوره کړو کوم چې زمونږ نه شوی دي، نو د دې ورځو اهمیت څومره دی؟ فضیلت یې څومره دی ؟ او کوم کوم کارونه پدې ورځو کې کول پکار دي؟

د دې ورځو د فضیلت په هکله دا کافي ده چې الله تعالی پدې قدرمنو ورځو قسم کوي، الله تعالی فرمایي : {وَالْفَجْرِ * وَلَيَالٍ عَشْرٍ} [الفجر: ۱-۲]، په سبا مې دې قسم وي او په لسو شپو.

ابن کثیر لیکلي چې: د لیال عشر څخه مراد لس ورځې د ذوالحجې دي، او دا خبره ابن عباس -رضی الله عنه-، مجاهد -رحمه الله- ، عبدالله بن الزبیر -رضی الله عنه- او زیاتو مخکینو او روستنو علماؤ هم کړې ده ، او الله تعالی قسم نه کوی مګر په لویو شیانو، ابن القیم -رحمه الله تعالی- په خپل کتاب (التبیان) کښی لیکلي چې: هر وخت چې په هغه کې داسې عظیم اعمال وی نو پکار ده چې الله تعالی وربانديې قسم وکړي.

او لکه څرنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مونږ ته بیان کړی چې: د ذوالحجې اولنی لسیزه د ټول کال تر ورځو غوره او بهتره ده او پدې ورځو کې اعمال تر نورو هرو عملونه غوره دي چې په نورو ورځو کې وي بخاري په خپل کتاب (صحیح البخاري) کښی وایي: چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي: داسې ورځې نشته چې په هغو کې کوم عمل الله تعالی ته ډیر خوښ وي له دې (لسو) ورځو څخه، صحابه کرامو ورته وفرمایل چې: ای د الله رسوله د الله په لاره کښی جهاد هم ترینه غوره ندی؟ هغه وفرمایل: نه، جهاد في سبیل الله هم ترینه ندی غوره، مګر هغه سړی چې خپل مال او خپل ځان دواړه د الله تعالی په لاره کې وباسی او بیرته رانشي.

ابن رجب الحنبلي په خپل کتاب (لطائف المعارف) کښی فرمایي چې: دا حدیث پر دې خبره دلالت کوي چې نیک اعمال پدغه لسو ورځو کې الله تعالی ته د ټول کال تر ټولو ورځو خوښ دی، نو چې هر عمل الله تعالی ته څومره خوش وي هغه ډیر بهتر هم وی.

ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب (زاد المعاد) کې لیکلي چې: د ذوالحجې دې لس ورځو ته څکه فضیلت ورکړل شوی چې په دې ورځو کې د قربانی ورځ، د عرفې ورځ، او د حج د شروع کولو (الترویه) ورځ ده.

په دغو لسو ورځو کې یوه ډیره د لوی شان والا ورځ ده چې هغې ته د عرفې ورځ ویل کیږي، هغه ورځ چې په هغې کې د ټولې دنیا مسلمانان را ټولیږي، هغه ورځ چې په هغې کښی الله تعالی خپل دین پوره کړی او د دغې ورځې روژه د دوه کالو ګناهونه ختموی، او بله ورځ پدی لسو ورځو کښی د حج مبارکه ورځ ده چې په هغې کې هغه عبادات او طاعات را ټولیږی چې په نورو ورځو کښی نشی کیدالای.

پدغه لسو ورځوکښې غوره عبادتونه:

یقینا د دغو لسو ورځو را لاندی کول د الله تعالی په نعمتونو کښې ډیر ستر او لوی نعمت دی، د دې ورځو پوره عزت او قدر صرف عبادت کونکی او کوښښ کونکی اداء کولای شي، نو پر هر مسلمان دا لازمه ده چې له دغو ورځو څخه ځان خبر کړي او دا د ځان لپاره یو لوی غنیمت او ورتیا وګڼي، ځکه چې مخکینو نیکانو خلکو به په دغه ورځو کښی په عبادتونو کښی تر نورو ورځو ډیر کوښښ کولو، او دا خبره د هغوی له خوږ سیرت څخه هم بریښي.

هغه غوره اعمال چې باید مسلمان پرې پدغه ورځو کې ډیر زیات ټینګار او حرص وکړي، هغه ډیر زیات دي لکه : د الله تعالی په لاره کې جهاد ، د قران کریم تلاوت کول ، په مسجد کښی د فرض لمونځ پابندي کول، د مور او پلار سره نیکي کول، له خپلوانو سره ښیګړه کول، د ګاونډیانو سره ښه کول، د خلکو په مینځ کې روغه کول، د میلمه عزت کول، د الله تعالی په لار کښې مال مصرف کول، د بیمار پوښتنه کول او داسی نور، خو یو شمیر داسې نور عملونه هم شته چې د هغو خاص ستاینه شوی ده لکه :

(۱) . د الله تعالی ډیر ذکر کول: الله تعالی فرمایې: {لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ} [الحج: ۲۸]، ژباړه: پدې خاطر چې دوی خپلو ګټو ته حاضر شي او د الله تعالی نوم په معلومو ورځو کې یاد کړي.

ابن رجب -رحمه الله- په خپل کتاب (اللطائف) کې وایي چې: چی له دې معلومو ورځو څخه مراد هغه لس ورځې د ذوالحجې دي.

له دې امله رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په دغه لسو ورځو کې مسلمانان پر نیکو عملونو را ټیز کړي دي چې باید په لوړو اوازونو تکبیرونه او د الله تعالی حمدونه ووایي، [رواه احمد وغیره] .

بخاری په خپل کتاب (صحیح البخاري) کښی روایت کوي چې عمر -رضی الله عنه به په منی کې د خپلې خیمې څخه تکبرونه په لوړ اواز ویل تر دې چی په مسجد کې به نورو خلکو هم اوریدل، نو هغوی به هم ورسره بدرګه کول، او بازارونو کښی به هم خلکو بدرګه کول، تر دې چې ټوله منی به د تکبیر له اوازونو څخه ډکه شوه او ابن عمر -رضي الله عنهما- به په دغه ټولو ورځو کې د هر لمانځه څخه وروسته ،پر خپل بیستر، په خیمه کښی، د کیناستلو په ځای کښی او په روانه کې.

نو دا معلومه شوه چې پدغه لسو ورځو کې تر ټولو غوره عمل تکبیرونه ویل دي، بیا تکبیر دوه ډوله دی : یو عام تکبیر بل په خاص تکبیر؛ عام تکبیر د ذوالحجې د لمړۍ ورځې څخه دیارلسمې ورځې تر اخیره پورې په هرځای کې ویل پکار دي او خاص تکبیر به د لمانځه څخه وروسته چې د عرفې د ورځې له سهار څخه [څوک چی حج نکوی] د تشریق د ورځو تر اخره پورې، لکه چې د صحابه کرامو نقل دي او حاجیان به یې هغه وخت پیل کوي چې د اختر په ورځ شیطان ولي.

د تکبیر الفاظ په لاندي ډول دي: الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد، له دې پرته نور هم د صحابه کرامو څخه رانقل دي.

(۲) . روژه : مسلمان ته دا پکار دي چې د ذوالحجې لمړۍ نهه ورځې روژه ونیسې، (ټولې یا چې څومره نیولی شي)، ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعضې بیبیانو څخه روایت دی چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به د ذوالحجې لمړۍ نهه ورځې روژه نیوله [ابوداود]، او ډیر علماء وایي چې د ذوالحجې لمړۍ نهه ورځې روژه نیول کلک مستحب دي. [شرح صحیح مسلم د نووي] .

(۳) . قرباني-اختری- حلالول: پدغه لسو ورځو کې بل غوره عمل دادی چې الله تعالی ته د یوه څاوري په حلالکه ځان نږدې کړي، قرباني د ډیرو علماؤ په نیز موکد سنت دی، نو هر مسلمان چې د قربانی د څاروي د اخیستو یا پکې د برخې د اخیستو توان او طاقت لري نو باید هغه په دی کې سستي ونکړي، ځکه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- او صحابه کرامو پدې کار پابندي کړې ده.

ترمذي په خپل کتاب (سنن الترمذي) کې د ابن عمر -رضی الله عنه- څخه نقل کړی دی هغه وایي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په مدینه کې لس کاله تیر کړي او هر کال به یې قرباني کوله.
ابن القیم -رحمه الله- په خپل کتاب (زاد المعاد)

کښې لیکلي چې رسول الله به قرباني کله هم نه پرېښوده.

(۴) . حج او عمره کول : پدغه لسو ورځو کښې تر ټولو غوره او بهتر عمل د الله تعالی د کور حج کول دي[ځوک چې د لاری طاقت لری] نو چا له چې الله تعالی توفیق ورکړ چې په صحیح توګه حج او بیا قرباني وکړي نو د دغه سړی به د الله د نبي-صلی الله علیه وسلم- د قول سره سم دا ثوابونه نصیب شي چې فرمایي: یوه عمره تر بلې عمرې پورې د دې دواړو تر مینځ ګناهونه ختوي، او هغه حج چې هغه خاص د الله د رضا لپاره وي نو د هغې بدله د جنت څخه بله نشته .[متفق علیه] .

د الله تعالی څخه غواړو چې داسلامي دولت مجاهدینو ته فتحې ور نصیب کړي او د آل سلول څخه دا پاکه مدینه او مکه خلاصه کړي، الله دې دوی وشرموي او الله دې مونږ ته د شریعت تر مشری لاندی حج او عمره را نصیب کړي.

که څوک پوښتنه وکړي چې مونږ د دې دوه قسمه حدیثونو تر مینځ څنګه یوځای والی راولو چې یوې خواته رسول الله-صلی الله علیه وسلم- د دې لسو ورځو عملونه تر ټولو ورځو غوره وګڼل او بل طرف ته په صحیح متواترو حدیثونو کې یې د الله په لاره کښې جهاد ډېر ستایلی دی؟ لکه د ابو هریرة رضی الله عنه په حدیث کښې چې راځي:د رسول الله څخه وپوښتل شول چې کوم عمل ډېر غوره دی؟ هغه ورته وفرمایل چې په الله او په رسول ایمان راوړل بیا ورته وویل شو چې بیا کوم یو عمل ډېر غوره دی؟ هغه ورته وفرمایل چې د الله په لاره کې جهاد کول. [متفق علیه].

نو د دی دواړو حدیثونو تر مینځ د جمع کولو لپاره د فیض الباري صاحب وایي: دا هغه وخت کې د دی ورځو عملونه غوره دي چې کله جهاد فرض عین نه وی، یا دا چې دلته خبره د فضلیت ده نه د فرضیت.

او ابن رجب وایي: یقنا پدی لسو ورځو کښې فرض تر نور ولیسزو ډیر بهتر دي او نفل یې هم دغسې، هر چې د دې ورځو نفل دي نو دا خو یقیني ده چې تر نورو فرضو بهتر ندي، ځکه چې د رمضان د لسو ورځو روژه د دې لسیزې د روژې څخه بهتره ده، ځکه فرض تر نفلو بهتر وي. [فتح الباري].

او د علماؤ په نیز دا خبره معلومه او ثابته ده چې جهاد [اګر که اقدامي وي] تر ټولو اعمالو بهتر دی او هیڅ عمل ورسره نشي برابریدلای، لکه چې ابن تیمیة -رحمه الله- وایي: څومره چې زه خبر یم نو د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چې په عباداتو کښې تر ټولو غوره عمل جهاد دی، د مثاله په توګه: دا د نفلي حج، نفلی روژې او نفلی لمونځ څخه بهتر دی. [مجموع الفتاوی].

نو هغه وخت به څرنګه حال وي چې جهاد دفاعی وي او پر هر مسلمان فرض عین وي؟! ابن تیمیة -رحمه الله- د تاتاریانو خلاف جهاد په اړه وایي: که چرته پدی حاضر وخت کې د صحابؤ مشران لکه ابوبکر ، عمر ، عثمان ، علي –رضي الله عنهم- او یا نور ژوندي وی نو د هغوی تر ټولو غوره عمل به ددی مجرمانو خلاف جهاد وو. [مجموع الفتاوی].

نو نتیجه دا شوه چې کله جهاد فرض عین وي (لکه دفاعي جهاد) دا تر ټولو واجبو او مستحبو کارونو غوره او افضل عمل دی، که چیرته اقدامي جهاد په دغه لسو ورځو کښې راشي نو بیا دا تر ټولو بهتر او غوره عمل دی.

نو دا یو غنیمت وګڼئ اې مسلمانانو ډیر لوی غنیمت، ځکه چې قسم په الله که د دغې د ارزښت اندازه ولګول شی، او پدغه ورځو کې په عبادتونو کښې تیزي وکړئ او د مرګ له نیتې څخه وړاندې دیته تیزي وکړئ، ځکه چې نن عمل دی حساب نشته، سبا به حساب وي عمل به نه وي.

اې الله مونږ په خیر تر دغو لسو ورځو ور ورسوه او زمونږ سره په خپله ذکر، شکر ، او ښه عبادت کښې مرسته وکړه. اللهم آمین .

د ذو الحجې لمړۍ لس ورځې

الله عالی فرمايي:

﴿وَالْفَجْرِ * وَلَيَالٍ عَشْرٍ * وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾

زما دې په سبا قسم وي او په هغو لسو شپو او په جفتو او طاقو. سورة الفجر

غوره والی يې

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:(هيڅ يو عمل لدې ورځو څخه په نورو کې بهتر نشته) نو صحابه کرامو وويل:جهاد ترې هم بهتر ندی؟ هغه وفرمايل:(جهاد ترې هم بهتر ندی، مګر هغه سړی چې په جهاد کې له کوره د مال او نفس سره ووځي او هيڅ شی ترې بيرته راستون نشي)[صحيح بخاري]

هغه مستحب اعمال او آداب چې پدې ورځو کې اداء کيږي

د لمړيو نهه ورځو روژې نيول

د نبی ﷺ د بعضې بيبيانو څخه روايت دی، وايي:(رسول الله ﷺ به د ذو الحجې نهه ورځې روژې نيولې).رواه أبو داود

د عرفې د ورځې روژه

د ابو قتاده الانصاري رضي الله عنه نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څخه د عرفې د ورځې په اړه پوښتنه وشوه، نو هغه وفرمايل:(د مخکني او وروستني کال ګناهونه ريژوي)[صحيح مسلم]

قرباني

د انس رضي الله عنه نه روايت دی، وايي رسول الله ﷺ په دوه ښکليو ګډانو قرباني وکړه، ما وليد چې په مخ به يې ورته پښه کيښوده او بسم الله او الله اکبر به يې ووايه او دواړه يې په خپل لاس حلال کړل.صحيح مسلم

الله اکبر لا اله الا الله او الحمدلله ويل

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:(داسې ورځې نشته چې هغه ډيرې عظيمې وي او الله تعالی ته پکې عمل ډير خوښ وي د دغو لسوورځوڅخه، نوتاسوپه دې کې لا اله الا الله، الله اکبر او الحمد لله ډيرزيات وايئ) مسند احمد

ټول نيک اعمال کول

پدې ورځو کې په هر نيک عمل الله تعالی ته ځان نږدې کول پکار دي، ځکه د رسول الله ﷺ دغه وينا عامه ده چې وايي:(نيک عمل پکې الله تعالی ته خوښ دی) نو غزا، رباط، ذکر، لمونځ، د قرآن تلاوت، خپلولي پالل، صدقې..... اونورو ته شامل دی.

مسئله

څوک چې د قربانۍ اراده لري د هغه لپاره د نوکانو او ويښتانو د کمولو څخه د منع کيدو څه حکم دی؟

دغه کار واجب دی، ځکه د ام سلمې رضي الله عنها په حديث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:(کله چې تاسو د ذوالحجې مياشت وليدله او کوم يو په تاسو کې د قربانۍ اراده درلوده، نو د خپلو ويښتانو او نوکانو څخه دې منع شي) صحيح مسلم

مسئله

پدې ورځو کې د تکبير الفاظ:

- اللّه أكبر، اللّه أكبر، اللّه أكبر.

- اللّه أكبر، اللّه أكبر، لا إله إلا اللّه، واللّه أكبر، اللّه أكبر، ولله الحمد.

- اللّه أكبر كبيرا، اللّه أكبر كبيرا، اللّه أكبر وأجلّ، اللّه أكبر، ولله الحمد.

ای د ښځو ټولیه صدقې ورکړئ

په توره او ټوپک جنګ او قتال الله تعالی یوازې په نارینه بندګانو فرض کړ او ښځینه بندګانې یې ترې معاف کړې، خو زمونږ د زمانې ښځې ګمان کوي چې په هغوی هیڅ ډول جهاد نشته، لیکن د هغوی څه د جهاد د ټولو څخه لویه برخه پاتې شوه، کومه چې الله تعالی د قرآن په ټولو ځایونو کې د نفس په جهاد مخکې کړې بغیر له یوه ځای څخه؛ د غې عظیمې برخې ته په مال سره جهاد وایي، کوم چې د ښځو په حق د تورې د جهاد په څیر ندی ساقط شوی، پدې موقع د یاد وړ ده چې ووایو الله تعالی دې د سلف صالحینو په بعضې ښځو رحم وکړي چې کله به د هغوی داسې څه نه وو چې د الله تعالی د لارې په غازیانو یې خرڅ کړي، نو خپلې کمڅۍ به یې غوڅې کړې او د غازیانو اسونو لپاره به یې ترې واګې جوړې کړې، نو هغه پټ منې چیرته دې چې په ځمکه د الله تعالی د کلمې د لوړ والي لپاره یې بدې وهلي؟ هغه ښځې څه شوې چې د الله تعالی د دې دین د مرستې لپاره به یې خیراتونه کول، د کومو بدزه چې هغه جنتونه دي چې پراخي یې د اسمانونو او زمکو په مقدار ده-باذن الله تعالی.

الله تعالی په خپل پاک کتاب کې فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ * تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} [الصف: ۱۰-۱۱]، ژباړه: ای مومنانو! آیا زه تاسو ته داسې تجارت نه ښایم چې تاسو د دردناک عذاب څخه خلاص کړي، تاسو به په الله تعالی او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د الله تعالی په لار کې به په خپلو مالونو او نفسونو جهاد کوئ، دغه کار ستاسو لپاره غوره دی که تاسو پوهیږئ.

په الله تعالی ایمان او بیا د هغه په لاره کې په مال او نفس جهاد.

د مال جهاد یې د نفس په جهاد ځکه مخکې کړ چې په مال سره د جهاد لپاره د غازیانو او د لښکرو تیارۍ مرحله پیل کړي، بله دا چې د نفس په جهاد کې په عذر لرونکو کومه ګناه نشته که په کور کې پاتې شي، همدا رنګ ښځې ترې هم بهر دي، لکن د مال په جهاد د هیچا عذر نشته چې الله تعالی ورته مال ورکړی وي او هغه خیرات ونه کړي؛ پدې کې بیا د ښځې او سړي، ځوان او بوډ، روند او لیدونکي، مریض او روغ هیڅ فرق نشته، مګر هغه څوک چې فقیر وي نو په هغه کومه ګناه نشته، ځکه الله تعالی فرمایي:{وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ} [التوبة: ۹۲]، ژباړه: او په هغو خلکو هم ګناه نشته چې تاته پدې غرض راشي چې ته ورته سپرلۍ برابره کړې، نو ته ورته وایې: ماسره داسې څه نشته چې تاسو پرې بار کړم.

او د انس -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(د مشرکینو سره په مالونو، نفسونو او ژبو وجنګیږئ) [رواه أبو داود].

ابن قیم -رحمه الله- د قرآن کریم په ارشاداتو کې د جهاد په اړه د نفس څخه د مال د مخکې کولو حکمت داسې بیانوي: او دویمه فایده دا ده چې مال سره د نفس محبت او عشق وي، نفس د مال په ترلاسه کولو کې خپل ځان خرڅ کوي، خطر او مرګ ته د مال په لټون کې ځان وړاندې کوي او دا د دې خبرې ثبوت دی چې نفس د مال سره مینه او عشق لري، نو الله تعالی خپل مینه وال؛ د هغه د لارې مجاهدین دې ته وهڅول چې خپل معشوق(مال) د هغه د رضا لپاره خرڅ کړي، مقصد ترې دادی چې بندګانو ته الله تعالی تر ټول زیات محبوب شي او پدې کائناتو کې بل داسې شی وجود ونه لري چې هغه بندګانو ته د الله تعالی څخه ډیر محبوب وي، نو کله چې دوی خپل معشوق او محبوب مال د الله تعالی په لاره کې خرڅ کړي، نو دوی به یوې داسې مرتبې ته منتقل شي چې هغه به د ملرې څخه ډیره لوړه او پوره وي او هغه د الله تعالی لپاره د بندګانو نفسونه خرڅ کول دي، چې هغې ته د محبت انتهاء وای. [بدائع الفوائد].

بلې خوا ته دا معلومه خبره ده چې ښځې-ملګر ډیرې لرې چې الله تعالی یې ساتنه وکړي- فضول خبرې، د میړه ناشکري، غیبت او داسې نور مهلک ګناهونه ډیر کوي، نو رسو الله صلی الله علیه وسلم ورته داسې علاج وښوده چې چې د دوی بعضې ګناهونه په دنیا کې وریژوي، د ابو سعید الخدري –رضی الله عنه- وایي: رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د لوی یا کوچني اختر په ورځ د لمانځه ځای ته راغی نو د ښځو په خوا تیر شو، ویې فرمایل:(ای د ښځو ټولیه! تاسو صدقې وکړئ، ځکه ما تاسو لیدلې اسئ چې په اور کې ډیرې اسئ) نو هغوی وویل: ولې مونږ په اور کې ډیرې یو ای د الله رسوله؟ هغه وفرمایل:(تاسو لعنتونه-خیرې- ډیرې کوی او د میړونو ناشکري کوئ...)[صحیح البخاري].

ته وګوره أسماء بنت أبي بکر -رضي الله عنها- سره د ډیرې غریبۍ او ضرورت- چې هیڅ سره او سپین یې نه درلودل- د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د صدقې په اړه پوښتنه کوي، د ابو ملیکه نه روایت دی، وایي: ماته أسماء بنت أبي بکر -رضي الله عنها- وویل: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زما سره کوم مال نشته، مګر هغه څه چې زبیر یې کورته راوړي، نو آیا له هغې خیرات کولی شم؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:(ورکوه، د ګوډې خوله مه تړه، چې الله تعالی به یې درباندې هم وتړي)[رواه أبو داود].

ابن حجر وایي: د حدیث مطلب دادی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ولږې د ویرې له خاطره د خیرات نه کولو څخه منع کوي، وجه دا ده چې پدې سره د برکت ماده له مینځه ځي، او الله تعالی په خیرات کولو بې حسابه ثوابونه ورکوي او څوک چې د اجر ورکولو په وخت کې حساب نه کوي د ورکړې په وخت هم حسابونه نه کوي، او څوک چې پدې پوه شو چې الله تعالی د هغه ځایه ورکوي چې د چا په ګمان کې هم نه وي نو د هغه حق دا جوړیږي چې د هغه په لار کې هم بنده بې حسابه ورکړه وکړي. [فتح الباري].

په مونږ باید پاک خلک د خپل مال سخا کوي، او مونږ د پاکو خلکو په مال خیرات کوو.

او د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:(الله عزوجل صدقات قبلوي او په ښي لاس یې اخلي هغه داسې لویوي لکه چې تاسو کې چې یوتن د خپل اس بچي لویوي او یا د اوښ بچی ترڍې چې یوه مړۍ ډوډۍ د احد غره په مقدار لویه شي). [رواه الترمذي].

نو ستا ګمان دی که دغه خیرات او صدقه د الله تعالی د لارې د مجاهد د تیارۍ لپاره وکړی شي؟ آیا د دین قیام د اسلام ساتنه د مجاهد پرته بل څوک کولی شي؟ آیا د ناموس ساته او د کافرو پوزه ماتونه بغیر له مجاهده بل څوک کولی شي؟

بخاري د دې باب لاندې ذکر کوي: باب دی په بیا د فضیلت د هغه چا کې چې یو مجاهد تیار کړي او یا د هغه په کور د خیر په نیت پاتې شي، د زید بن خالد رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:(چا چې د الله په لار کې یو غازي تیار کړ نو هغه غزا وکړه او څوک چې د یو غازي په کور د پاملرنې او خیر لپاره پاتې شو نو هغه هم غزا وکړه)؛ په همدغه موضوع امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضي الله عنه په سمه توګه پوهه شوی وو نو ځکه یې د الله تعالی سره داسې تجارت وکړه چې جنتونه یې ورته په میراث کې ورکړل، هغه یواځې یو
